# ښځه او پښتانه

ښاغلي ښېنوا !

د کابل په مجله کښې مو د ښځو او پښتنو په خصوص کښې اقتراح کړې وه او زما رايه مو غوښتې وه، دا موضوع خورا مهمه ده، او د پښتنو په اجتماعي حالت کښې هم د غور وړ ده. څو عمر د مخه د ننګرهار ويښو زلميانو هم دغو خبرو ته توجه کړې وه، او ما د پوهانو او ليکوالو ډېرمضامين په وطني جرايدو کښې ولوستل او غوارم چې دلته زه هم څه وليکم.

پښتانه ښځې ته په خورا درنه نظر ګوري، د ښځې پلو په احترام ويني زموږ پښتني او ملي عنعنات پر دې خبره دلالت کوي چې پخوانو پښتنو به د خلقت دې لطيف عنصر او د لوی خدای (ج) دې ښکلي عطاء ته په داسې نظر کتل لکه چې ښايي، تاسې وګورئ پښتنو د ژوندانه اکثر کارونه ښځو ته سپارلي وه، د کور ټول لوازم او د حمل و نقل اسباب د ښځو لخوا تهيه کېده په جګړو او جنګو کښې د ښځو مداخلې مطلقه روغه او صلح و صفا راوسته، د دې روغې تيره به هم ښځې اېښووه او د ښځې پلو هسې محترم وُ، چې به چا له په ننواتې راغله، هغه مقصد به خامخا د متخاصم له خوا د طرف مقابل په ګټه فيصله کېدی حتی غلو او بدو خلکو به هم د ښځې احترام هسې کاوه چې په قافله کښې به ښځه وه نو چا هغه قافله نه شکوله. دا ټول اوضاع او د پښتنو ملي عنعنات دلالت پر دې



خبره کوي چې ښځه د پښتنو د ژوندانه يو محترم عنصر وه، او پخوانو دغه لطيف جنس ته د احترام په سترګه کتل، او ټول دغه وضعيت د دوی په مقابل کښې اجراء کېده چې اوس هم ځينې دغه عنعنات په پښتنو قبايلو کښې محفوظ دي.

مګر وروسته وروسته د پښتنو په کور کښې يوه نوې بلا ولاړه سوه او د ښځو د مهر او ولور او نورو نومو په ډول تقريباً ددې نافع او لطيف جنس خرڅول شروع سوه او اوس چې موږ ګورو، اکثر پلرونه متاسفانه خپل اولاد په خورا درانه ولور خرڅوي.

د کندهار د پښتنو هم دا بلا په کور سوېده او پښتنې پېغلې ډېرځله بې مېړه عمر تېروي او پښتانه زلمي جره ژوند کوي، ولورونه تر (۵۰) زرو روپو پورې رسېدلي دي او بې وزلي او غريب خلک نه سي کولای چې د کور او نغري خاوندان سي، ددې بد وضعيت منطقي نتيجه داده چې ورځ په ورځ اخلاق خرابيږي، نسل کميږي، د زلمو صحت ورانيږي، امراض او آفات ډېريږي، او په پای کښې يو مکمل اجتماعي (انحطاط) زموږ په برخه کيږي. که د محاکمو او جناياتو يو مکمله احصائيه واخلو، تاسې به وګورئ چې سل تر نيمې ډېر جنايات او اجتماعي آفات له دغه وضعيته پېښيږي، ولورونه لوړ سول، زلمي جره ګرځي پېغلې په کور کښې زړې سوې ناپوه پلرونه پر خپل اولاد باندې پيسې ګټي دوني څوک نسته چې پښتانه په خپل عيب وپوهوي، او دوی له داسې کارو څخه منع کړي.

موږ مسلمانان يو او بيا پښتانه يو اسلامي هدايات بايد هېر نه کړو (خيرالنساء احسنهن وجوها) زموږ د پېشوا بهترين وصيت دی، د پښتنوالي غيرت هم دا نه قبلوي چې سړی خپل اولاد او خپل مظلوم او بېچاره زېږولې (يعني خپل ناموس) په پيسو خرڅ کاندي.

لکه لوړ چې وليکل سوه، مسلمانانو هغه ښځه خورا ښه ګڼله چې ولور به ئې لږ لږ وُ، پخوانو پښتنو هم خپلې لونې نه خرڅولې، نه

پوهېږم چي دغه ۴۰ - ۵۰ زره روپۍ ولورونه له کومه سوه؟ آيا د پښتنولۍ غيرت څه سو؟ ښايي چي ځيني پښتانه به په دغو خبرو خوابدي سي چي زه ولي هسي ترخې خبري ليکم مگر دا مسئله خورا مهمه ده، او زموږ د اکثرو خرابيو علت هم دغه دی، چي ښځي د پلار پر کور زړېږي يا په خورا گران ولور ورکول کيږي ځني مدهش نتائج ئې زه لاندي ليکم :

۱. پېغله ښځه چي په کور کښي بې مېړه ناسته وي شخصي اخلاق ئې خرابيږي، او کله کله ناجائزه کارونه کوي، چي د خپل پلار او کورنۍ رنگ په بديږي، دغسي هم که نارينه بې ښځي وي او ولور ونه لري نو کوزده نه سي کولای د نارينه اخلاق هم خراب سي په لواطت او زنا او نورو آفاتو اخته سي.

۲. ځوان سړی او ښځه چي د واده وخت ئې راغلی وي، که واده نه سي نو دواړه په ځينو صحي آفاتو گرفتار سي، چي دماغ او بدن ته ئې ډېر تاوان لري، مثلاً : اکثر جره خلک موټ وهي يا د دقت او تنهايي په سبب په ناوړه عملو لکه چرس، ترياک اخته کيږي. جلق او مسکرات دواړه زموږ د نسل بېخ راکاږي او اوس چه موږ گورو زموږ زلمي اکثر په دغو فسادو گرفتار دي او علت ئې همدغه دی چي ولورونه گران دي، او د زلمو کورونه وران دي.

۳. چي واده او نکاح نه وي ښه اولاد نه پيدا کيږي د يوقوم مواليد چي کم وي خلق ئې لږيږي، او د نفوسو قلت هر راز اقتصادي او اجتماعي تاوانونه لري. که موږ دغه پنځوس کاله ولورونه تر حد نه واى ډېر کړي او ښځي مو پر وخت زلمو ته ورکړي واى يقيناً به اوس زموږ نفوس هم ډېر وُ، چي نفوس ډېر سوی وای، وطن به ضرور ودان وای، زراعت به ښه وای، اقتصادي چاري چي د خلکو په مټ کيږي تر اوس به خورا ښې وای.



۴. ما ډېر ليدلي دي چي د ښځي د کښېنولو او نه ورکولو په سبب قتلونه واقع سوي او ډېرجاني او مالي تلفات رسېدلي دي، او د اولسونو تر منځ بدۍ او دښمنۍ لوېدلي دي چي نتيجه ئې قتل او عادت او يو مدهش اجتماعي (انحطاط) دی.

په دې ډول ډېر نور عيوب او مفاسد له دې خبري نه زيږي او کولای سو چي دغه مفسده (ام المفاسد) وبولو، او د پښتنو د اوسني انحطاط علل العلل هم دغه خبره ده

اوس زه بيرته هغه لومړني مقصد ته ور گرځم او وايم چي ښځه د پښتنو د پخوانو خلکو او اسلافو په نظر کښي خورا محترمه او د کور د ژوندانه ملکه او د نارينه د حيات بهترينه ملگرې وه، مگر اوس ئې موږ د حيوان په دود خرڅوو او پلرونه د لوڼو په غوښو خوړولو نه شرميږي، خپل ناموس په پيسو خرڅوي.

ددې کرغېړن او ناوړه دود د ورکولو او محوه کولو دپاره بايد ډېر کوښښ وسي محترم علماء او پوهان او سپين ږيري بايد قوم پوه کړي چي ولور خورا لږ واخلي او د واده ناوړه او ناروا مراسم او دودونه هم ورک کاندي، د نکاح هيڅ مجلس له ملا او عالمه خالي نه وي او پښتانه هيڅ نکاح بېله ملا څخه نه تړي سپين ږيري هم د نکاح په مجالسو کښي خبرول کيږي نو که محترم علماء په دغه موقع کښي ځيني ديني تبليغات وفرمايي ممکنه ده چي پر خلکو هم اثر وکاندي.

که څوک په کور کښي پېغله لور لري او په نکاح ئې نه ورکوي بايد د هغه سړي خپلوان او دوستان ده ته نصيحت وکاندي چي ښځه په شرعي نکاح چا له ورکړي او معطله ئې پرېږدي په دې اصلاح او اجتماعي ښېگڼه کښي علماء ډېر لوی خدمت کولای سي ښايي چي خپله ديني او اجتماعي وظيفه هېره نه کړي. ما اورېدلي دي چي د ننگرهار ځيني پوه او ويښ زلميان دې خبري ته متوجه

سوي دي چي په هغو پښتنو کښي تبليغات وکاندي او دا ناوړه دود ورک کړي، خدای دي دوی له توفيق عطاء کړي چي ډېر ژر موَفق سي او دغه اجتماعي فساد لکه يو مدهش مرض زموږ پښتنو ببخ را کاږي.

د کندهار د يوه معزز او بډای سړي په کور کښي يوه پېغله لور وه د واده وخت ئې هم ځنډېدلی وُ پلار د ناوړه افکارو په سبب چا له نه ورکوله او غوښته ئې چي دا معصوم او مظلوم انسان په لوړ ولور خرڅ کړي، دوه درې کاله د پېغلتابه وخت ئې د پلار پر کور تېر سو، او بالاخره دا ښځه د پلار د ظلم له لاسه سخته په عذاب سوه.

خلکو چي بې پلار ته مرکه واستوله ظالم پلار به ډېر ولور او درانه مراسم غوښته، مظلومه پېغله د ځوانی مشتعلو احساساتو سوځله خو د صبره ئې کار اخيست.

په دې ډول درې خلور کاله تېر سوه او دا پېغله د پلار پر کور دده د نامه او ناموس د خوندي کولو دپاره ناسته وه، او د پېغلتابه ايشېدونکي جذبات ئې پخپل زړه کښي پټول، بې رحمه پلار ددې حال ته نه کتل، او د ډېر ولور په فکر کښي په يوه متمول سړي پسي گرځېده. ددوی د کور تر څنگ يو بداخلاق او ناروا زلمی وُ، چي دوې ماينې ئې هم درلودې مگر يو بې ناموسه سړی وُ، او بل به په ناروا کارو پسي گرځېده او خپلې ماينې هم ځينې په عذاب وې، دې سړي ددغي پېغلي سره ناروا مناسبات قايم کړل او له دې سره ئې عشقبازي شروع کړه، پېغله چي د ظالم پلار له لاسه خلور پنځه کاله معطله ناسته وه د شيطان په اغوا د پلار له کوره ووته او پر هغه زلمي ئې ناره وکړه. پلار او مور او ټول خپلوان په قهر سول او وئې ويل چي زموږ پزه ئې را پرې کړه، نو ئې د خپلي لور سره خپل مناسبات قطعه کړل، او يو څو ورځي چي شهواني اور سوړ سو هغه ناروا او بداخلاق زلمي دې ښځي ته شا کړه بنو هم دښمني ورسره



شروع کړه د پلار او مور جاهلانه جمعيت هم پر ښور راغی، او د خپلي لور سره ئې هيڅ رابطه نه درلوده، دې بدبختي ښځي چي د مور او پلار او خپلوانو له خوا هيڅ حمايت نه ليد او بد اخلاق مېړه ئې هم دې ته شا کړه او د بنو په سخت بغض او عناد ئې هم ځان گرفتار وليد دنيا ورته اور سوه او له هري خوا ئې نامرادي او مصيبت او د عضب چپلاخه نصيب سوه. دې د غم او د وير ژوند او تراژديک حالت دا نامراده نجلۍ مجبوره کړه چي يوه کپه زهر وخوري او ددنيا له دغو ظلمو او شقاوتو څخه سترگي پټي کړي. وايي چي دې نامرادي نجلۍ زهر وخوړه يو څو دقيقي د ژوندانه عبرتناک ډگر لغښته، او ناري به ئې وهلې: " پلاره! مېړه! خپلوانو انسانانو زه ستاسي د ظلم او بې رحمۍ له سببه دنيا پرېږدم. خدای مو په دغسي ظلم گرفتار که !!! " وايي چي دا مظلومه نجلۍ مړه سوه ظالم پلار ئې پر جنازه هم حاضر نه سو، بد اخلاق او خدای وهلي مېړه هم نه ښخوله څو يو څو تنه پردي خلق را ولاړ سول او دا د ظلم او قساوت قرباني ئې خاورو ته وسپارله. د نجلۍ د حيات تورداستان ختم سو، يو انسان په ظلم او قساوت کښي مړ سو، مگر بدنامي او عمري پېټې ئې د پلار او ناروا مېړه نصيب سو. تاسي وگورئ! چي د ولور ډېرښت او د واده ناروا دودونه څومره لوئي بدبختۍ پر موږ راولي؟ نو آيا مناسبه نه ده چي له دغو بدو او ناوړه دودونو څخه لاس واخلو؟

دغه اجتماعي آفت ته پخوا هم خلک ملتفت سوی وه، او په کندهار کښي دېرش کاله دمخه يو حقاني عالم وُ چي ملا عبدالباقي نومېدی په قوم کاکړ وُ، دا مرحوم او فکور سپين ږيري سړی به په سپينه ږيره او کرويه ملا په هر ځای کښي ولاړ وُ، او پښتنو ته به ئې ددوی مفاسد ښوول، او له منهياتو او بدو اخلاقو به ئې راگرځول دده په تبليغاتو کښي يوه خبره داده چي ښځي او کونډې ته ددوی مشروع حق ورکړل سي، او پښتانه دي د دې نامشروع حاله لاس واخلي، زه دلته ددې مرحوم او فکور پښتون عالم يو څو وېناوي رانقلوم:

مفهوم دا وي د حديث چي ښه د ښځو سوه خوشرنگه
که ئې مهر وکا بين سپک ؤ ښېلوي زړونه له زنگه
چي له ښځو ولور ډېر و له نقصانه ئې خسته سوه
چي د ژگو مهر درونـد ؤ پـه بـديو آغشـته سـوه
د سنقر د مـور لمسـۍ سوه پـه پنځه منه روپۍ !
مضاعف خرڅښت ئې نور سو له دولاغو ترکيبۍ
خوار غريب سړي تـه گوره دا ئې کله سي له لاسه
پـه ظلمت بـه مبتلا وي چي انکار سو پرلـه پاسه
دا اعلاج خورا ضرور دی چي د ښځو مهر سپک سي
کـه خلجي کـه دُرانـي وي د نکاح ثقل دي ورک سي
هيچري بـه دا شان نـه وي خط چپـه راغـی لـه واره
پښتانـه اکثـر مفلسـه يـو ونـيم ئـې دنيـا داره
د نکـاح پلـه درنـه ده بې دينـي سـوه پـه راپورتـه
کـه نکاح پـه مناسب واى ځلـه تـی د بـدۍ لورتـه
تر څه حده قباحت سو درست اولس سي په رنگ زرده
خدايـه وسـاتې مـؤمن پـه خپـل کـرم لـه داسـي کـرده
چي پر کونډو سره وژنو رو گردانـه سو لـه خدايـه !
علت کُل لنگر د مهر دېوار کج سو لـه تهدابـه
د الله حُکم مو پرېښو پـه ميراث مو يوړې ښځي
په اول کي نکاح درونـد وه پر آخر مو پرې سوې برځي
هزارها روپۍ مو خرڅي کونډه نه باسم له کوره
څه فراق څه ئې عزت دی مورثه‌مي سوه لـه وروره
شاو و روم، يمن، حجاز و حضر موت، نجه وعراق
د نکاح پلـه ئـې سپکه همېشـه ئـې سـي طـلاق
پـه زرو مطلقـي وي نـه ئـې عيب سـته نـه پېغـور
د عدی خرڅ ئې ترې غواړي نې قريب بد وړ ي نه مور



شـريعت حکـم دغـه سـوه ښـه اسـباب ئـې دي د چلـي
خپـل توفيـق د طبعـي گـوری هيڅـوک نـه وايـي چي ولـي ؟
چـي وصـلت پـه شـريعت وي هـم پـه شـرع سـي فـراق
څـه شـبهه لـري پـه دې کـي سـږ نکـاح پـر کـال طـلاق
شـــواغلظ د مباهـــاتو وتنزيـــه تـــه نـــه رســـيږي
چـي عـادت پـر جـاري نـه سـو مـرد و زن ځنـي ترهيـږي
د "افغـان" پـر کلـي شـپه کـه مـرگ قبـول دی نـه طـلاق
حبطـه پـه گـنج کـي ناسـته نـه واتـه سـته نـه وفـاق
د "افغـان" پـر کلـي غـم دی نکـاح درونـد دی هـم جهـاز
لـه دوی پاتـه سـوه نغمـه و ترانـه کـوک کـړی سـاز
د نکـاح لـه اشـتياقه زړونـه زخـم سـوه خوږيـږي
فهـم و فکـر حبطـه سـو لـه دې ژونـدِه څـه جوړيـږي؟

**رباعيات**

کـه زنـا کـا هلاکيـږي
يـا ئـې وېـره سـي د قتـل
يـا ئـې لاس نـه ورسـيږي !
نکـاح نـه ورپيـدا کيـږي

څـه عجيبـه طريقـه سـوه؟
نيمـه نسـل منقطـع سـو
کجـه لار چپـه شـيوه سـوه !
زما د شرق و غرب دعوه سوه

طالبـان پـه حجـرو کښـي
درې څلـور بـه ئـې زامـن وی
سوه سپين ږيري پـه غاروکي
کـې وای ښځـي پـه کـوروکي

د مفلـس قطـع سـو نسـل
تـول پښتـون بـه يـو پـه دوه ؤ
اسـباب نـه لـري د وصـل
کـې لوسـتی وای دا فصـل

( له تبئين الواجباته )

(١) کابل مجله، ١٣٢٦ کال ١٠ مه گڼه، ص ۶.